اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ واقعات

دُعائے عطّار: یاربَّ المُصطفٰے: چې څوک هُم دا رِساله ”د امام حُسین واقعات“ اولولی یا ئې واورِي، هغه ته د امام حسین رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ په سیرت باندې د عمل کولو توفیق نصیب کړې او جنّت الفردوس ته ئې بےحسابه داخل کړې- اٰمین بِجاہ خاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د مسلمانانو څلورم خلیفه، حضرت مولائے کائنات، علي المُرتضٰي شیرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: کله چې د یو جمات په خوا تیریږئ نو په رسول اکرم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې درود شریف لولئ - (فضل الصلاۃ علی النبی للقاضی الجهضمی، ص70، رقم:80)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب     صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د شهید کربلا د نهَه حُروفو په نِسبت د امام حسین رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نهه حکایات

### ﴿۱﴾ شانِ امام حسین

د جَنَّتي اِبن جَنَّتي، صحابي ابن صحابي، د رسُولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نمسي حضرت امام حسین رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ په موجودګئ کښې یو ځل د حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ په محفل کښې د اَعلٰي نَسب، عزّت و وجاهت والا بزرګو هستئیو ذکر کیدلو- حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ اوفرمائیل: آیا تاسو ته معلومه ده چې هغه کس څوک دے کوم چې د خپلو والدینو، تره او د پلار له طرفه، د نیا او نیکه، د مور له طرفه او پلار له طرفه تروریانو

او د پلار له طرفه تروريانو او د هغوئي د خاوندانو او ماما په اعتبار سره په خلقو کښې د ټولو نه زيات عزت والا دے؟ خلقو عرض اوکړو: تاسو زمونږ نه ښه پوهيږئ- دا ئې چې واوريدل نو حضرت امير معاويه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د امام عالي مقام حضرت امام حسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ لاس مبارک اونيولو او اوئې فرمائيل: هغه شخصيت دا دے، د دوئي والدِ محترم حضرت علي شير خدا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ دے، مور جانه ئې حضرت بي بي فاطمه زَهرا رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا د رسول الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لور مبارکه ده، د دوئي د مور له طرفه نيکه صاحب **مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے، او د مور له طرفه نيا ئې **خَدِيجَةُ الْكُبْرٰى** رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا ده، د دوئي کاکا جان حضرت جعفر طيار رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ دے، او تروړ ئې حضرت هاله بنت ابي طالب رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا او ماما جان ئې حضرت قاسم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ دے کوم چې د نبي کريم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شهزاده دے او د دوئي د مور له طرفه ترور حضرت زينب بنتِ رسول الله ده- دا ئې چې واوريدل نو په مجلس کښې موجودو ټولو خلقو اووئيل: تاسو بالکل رښتيا اوفرمائيل- (المستجاد من فعلات الاجواد، 26/1) **د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

کیوں نہ ہو رُتبہ بڑا اصحاب واہلِ بیت کا
مصطفٰے اُن کے خدا اصحاب واہلِ بیت کا

آل و اصحابِ نبی سب بادشہ ہیں بادشاہ
میں فقط ادنٰی گدا اصحاب و اہلِ بیت کا

یاالٰہی! شکریہ عطّار کو تو نے کیا
شعر گو، مِدحت سَرا اصحاب و اہلِ بیت کا

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب      صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## ﴿۲﴾ د مشر ورور آدب

سَخي اِبنِ سَخي، شهزادهٔ علي، حضرت امام حسنِ مُجتبيٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه يو ځل يو کس څه اُوغوښتل نو هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ ورته اوفرمائيل: د دريِ صُورتونو نه علاوه د چا نه سوال کول جائز نه دي (۱) ډير زيات قرضونه (۲) داسې غُربت چې سړے فقير جوړ کړي (۳)

یا ډېر زیات ضَمان- هغه کس عرض اوکړو: زه په دې کښې په یوه وجه راغلے یم نو هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ د ده د پاره د سَلو دینارو (یعني د سرو زرو د سلو سکّو ورکولو) حکم اوفرمائیلو- بیا هغه د امام حسین رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ نه د څه سوال اوکړو نو هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ هم د سوال په باره کښې هغه درې خبرې اوفرمائیلې کومې چې امام حسن رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائیلې وې هغه هم هغه جواب ورکړو کوم چې ئې امام حسن رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ ته ورکړے وو- شهیدِ کربلا حضرت امام حسین رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ هغه ته اوفرمائیل: زما ورور جان څه درکړل؟ هغه عرض اوکړو: سل دیناره- دوئي د مشر ورور سره برابري خوښه نه کړه او هغه ته ئې یو کم سل دیناره (یعني د سرو زرو سِکّے) ورکړې- بیا هغه کس د عبدالله بن عمر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا خواه ته ورغلو او سوال ئې ترینه اوکړو- هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا بغیر د څه تپوس کولو نه هغه ته اووه [7] دیناره ورکړل هغه ورته د امام حسن او امام حسین رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا خواه ته د تللو او د دینارونو ټوله واقعه بیان کړه نو حضرت عبدالله بن عمر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهما اوفرمائیل: تَعَجُّب دے په تا باندې! ته ما د هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهما برابر ګنړے، بےشکه هغوئي دواړه خو د علم او مال دریابُونه دي-" (عیون الاخبار، جزء: 3،ص158) **د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم**

سخاوت بھی ترے گھر کی عنایت بھی ترے گھر کی
ترے دَر کا سُوالی جھولیاں بَھر بَھر کے لاتا ہے

**صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## مشر ورُور د پلار په ځائے وي

اے عاشقانِ صحابه و اهلِ بیت! د امام عالی مقام امامِ حسین رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ د خپل مشر او خوږ ورور سره د مَحبَّت او تعظیم و ادب انداز خو اوګورئ- کاش! چې مونږه هم د خپلو

مشرانو ادب کوونکي جوړ شو- په اسلام کښې د مشر ورور لوئ مقام دے، څنګه چې وړوکي ورور له د مشر ورور احترام کول پکار دي هم دغه شان مشر ورور له د کشر ورور سره د شفقت و مَحبَّت نه ډک سُلُوک کول پکار دي ځکه چې مشر ورور د پلار په ځائے وي د مصطفٰے جانِ رحمت صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "د مشر ورور حق په کشر ورور باندې داسې دے لکه د پلار حق په اولاد باندې-" (شعب الایمان، 210/6، حدیث: 7929)

که په کور کښې ټول د يو بل د حقوقو خيال ساتي او يو بل سره ښه د ادب و احترام سُلُوک کوي نو په کور کښې د مَحبَّت نه ډک ماحول جوړيدے شي، نن صبا په کورونو کښې د جنګ جګړو يو سبب دا هم دے چې د خلقو په زړونو کښې ورځ په ورځ د يو بل د حقونو خيال کميږي، که مشر په کشر باندې شفقت نه کوي نو د کشر په زړه کښې هُم د مشر احترام نشته، نتيجتاً د کورونو ماحول زمونږ په وړاندې دے، دغه شان مشرې خور له د کشرې خور سره او کشرې خور له د مشرې خور سره د مَحبَّت نه ډک سُلُوک کول پکار دي هسې خو د مور و پلار په مخکښې يو بل سره په ښه نه ښه طريقه وخت تيروي خو د مو و پلار د وفات نه پس يا د ودونو نه پس د سَکَه ورونړو او خويندو په خپل مينځ کښې تعلق ډير کمزورے شي- په کور کښې د مينې او مَحبَّت ماحول جوړولو کښې د مور و پلار کردار ډير اهميت لري که مور پلار خپل بچي د ماشوموالي نه يو بل سره د مَحبَّت کولو او د يو بل د خيال ساتلو په باره کښې په نرمۍ او شفقت سره پوهه کوي نو اِن شَاءَاللّٰهُ تعالٰی د ماشوموالي نه به د کور ماحول ښه جوړيږي او کور کښې به مسلسل امن قائم وي-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د حضرت سَيِّدُنا امام حسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د خپل مشر ورور سره د مَحبَّت يوه بله خوندوره واقعه واورئ او خوشحاله شئ:

# ﴿۳﴾ مشر وروړ سره د مَحبَّت عجیبه انداز

حضرت ابوهريره رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: ما ته معلومه شوه چې د امام حسن او امام حسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا په مينځ کښې د څه خفګان په سبب خبرې اترې بندې دي (يعني څه معمولي شان خفګان چې کله په دوستانو کښې هم راځي) نو ما امام حسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ ته عرض اوکړو چې: خلق تاسو دواړه خپل مُقتدا (يع ي پيشوا) ګڼړي- تاسو د خپل مشر وروړ خواه ته لاړ شئ او هغوئي سره خبرې اوکړئ ځکه چې تاسو د هغوئي نه په عُمر کښې کم ئي- په دې باندې امام حسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ اوفرمائيل: که ما د رسولُ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا فرمان نه وے اوريدلے چې "په صُلح کښې مخکښې کيدلو والا به جنت ته مخکښې ځي" نو زه به ضرور د هغوئي په خدمت کښې حاضر شوے ووم خو زه دا نه خوښووم چې د هغوئي نه مخکښې جَنَّت ته لاړ شم-

صحابي رسول حضرت ابوهريره رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چې زه د امام حسن مُجتبٰي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ په بارګاه کښې حاضر شوم او هغوئي ته مې ټوله واقعه بيان کړه نو امام حسن رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ اوفرمائيل:"صَدَقَ اَخِیْ" يعني "زما وروړ ريښتيا اوفرمائيل" بيا هغوئي پاڅيدلو او خپل وروړ امام حسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ له ورغلو او هغوئي سره ئې خبرې اوفرمائيلې-(ذخائر العقبیٰ،ص238)

نونہالِ چمنِ مصطفوی مرتضوی | جسے قدرت نے چنا زینتِ جنت کے لیے

(دیوانِ سالک،ص92)

اے عاشقان صحابه و اهلِ بيت! په دې واقعه کښې که يو خوا د امام حسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د خپل وروړ سره د کمال مَحبَّت بيان دے نو په دې واقعه کښې يو اَهم پيغام هم دے چې د ټولو نه زيات احاديثِ مبارکه روايت کولو والا صحابي حضرت ابوهريره رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د دواړو شهزادګانو په خدمت کښې حاضر شو او په هغوئي کښې ئې صُلح اوکړه، صحابه کرام عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان د اهلِ بيتو ډير خير خواه او د هغوئي سره په غم درد کښې شريک وو،

دغه شان اهلِ بيت عَلَیۡہِمُ الرِّضۡوَان په صحابه کرامو عَلَیۡہِمُ الرِّضۡوَان ډير زيات شفيق او مهربانه وو، په احاديثِ مبارکه کښې د دې ډير مثالونه موجود دي

ناؤ ہیں آلِ نبی نجم ہیں اَصحابِ رسول    لِلّٰہِ الۡحَمۡد کہ مُژدہ ہے یہ اُمت کے لیے

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب    صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿۴﴾ د صحابه کرامو او امام عالي مقام په خپل مينځ کښې د مَحبَّت نه ډکه واقعه

حضرت محمد بن علی بن حسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ فرمائي چې (زما نيکه) امام حسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ خپلې زمکې ته پيدل روان وو چې په لاره کښې ورسره د صحابيءِ رسول حضرت نُعمان بن بشير رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ ملاقات اوشو چې هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ په خپل قچر باندې سُور وو، هغوئي د خپلې سورلۍ نه کوز شولو او خپله سورلي ئې د امام حسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ په خدمت کښې پيش کړه او عرض ئې اوکړو: " اے ابو عبدالله! تاسو سواره شئ-" امام حسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ سور نه شولو نو حضرت نُعمان بن بشير رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ ډيره زاري مِنَت اوکړو او قسم ئې ورکړو چې تاسو ضرور په دې سواره شئ- امام حسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ د هغوئي د قسم او زاري مِنَت په وجه سواره شولو او اوئې فرمائيل: زه دا نه خوښووم، تاسو زه په مشقّت کښې واچولَم، [داسې اوکړئ چې] تاسو مخکښې کښينئ، او زه به وروستو کښينم ځکه چې ما د خپلې خوږې مور رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا نه د خپل خوږ آقا او نيکه مبارک صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا فرمان اوريدلے دے چې، په سورلۍ باندې د مخکښې کښيناستلو حق دار د هغې مالک دے-" دا ئې چې واوريدل نو حضرت نُعمان بن بشير رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ اوفرمائيل: د رسولُ الله شهزادګۍ رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہَا رښتيا فرمائيلي دي، ما د خپل پلار حضرت بشير رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ نه هم داسې اوريدلي دي څنګه چې حضرت بي بي فاطمه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ ارشاد فرمائيلي دي او رسول الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا هم فرمائيلي دي چې: اِلَّا مَنۡ اَذِنَ يعني سوا د دې نه،

چا له چې د سوَرلئ مالک اجازت ورکړي- دا ئې چې واوریدل نو امام حسین رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ مخکښې او نُعمان بن بشیر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ وروستو کښېناستلو- (معجم کبیر، 414/22، حدیث: 1025)

جو کہ ہے دل سے جگر پارۂ زہرہ پہ نثار　　خُلد ہے اس کے لیے اور وہ جنت کے لیے

## ﴿۵﴾ مقامِ امام حسین

یو ځل په یوه جنازه کښې د شرکت نه پس امام حسین رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ واپس راروان وو نو په واپسئ کښې ستړے شولو نو د آرام د پاره یو ځائے کښې کښېناستلو- حضرت ابوهریره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په خپل څادر باندې د امام حسین رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د ښپو مبارکو نه ګرد (یعنې خاورې دورې) لرې کول شروع کړل نو امام حسین رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ منع کړو- په دې باندې حضرت ابوهریره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ عرض اوکړو: په الله پاک مې دِ قسم وي! چې ستاسو عَظمت چې څومره ما ته معلوم دے که خلقو ته معلوم شي نو تاسو به په اُوګُو اوچت کړي- (تاریخ ابن عساکر، 179/14 مختصرا، تاریخ الاسلام للذهبی، الحسین بن علی...الخ، 627/2)

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| هر صحابي نبي! | جَنَّتي | جَنَّتي | حضرتِ صدیق هُم! | جَنَّتي | جَنَّتي |
| او عمرفاروق هُم! | جَنَّتي | جَنَّتي | عثمانِ غنی! | جَنَّتي | جَنَّتي |
| فاطمه او علي! | جَنَّتي | جَنَّتي | حسن او حسین هُم | جَنَّتي | جَنَّتي |
| والدینِ نبی! | جَنَّتي | جَنَّتي | هره زوجهٔ نبی! | جَنَّتي | جَنَّتي |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب　　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿۶﴾ وِینزه ئې آزاده کړه

یو ځل د حضرتِ سَیِّدُنا امام حسین رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په خدمت کښې یوے وینزې ګُلدسته پیش کړه- هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ورته اوفرمائیل: ځه! ته دالله پاک د پاره آزاده ئې- عرض اوکړے شو: تاسو په یوه ګلدسته باندې وینزه آزاده کړه؟ د جَنَّتي ځلمو سردار امام حسین رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ارشاد اوفرمائیل: مونږ ته الله پاک هم دا ادب ښودلے دے- (التذکرة الحمدونیة، 186/2)

اے عاشقانِ امام حسين! د شهزادهٔ شيرِ خدا، شهيدِ کربلا حضرت امام حسين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ سِيرت زمونږ د پاره د تقليد قابل (يعني د عمل کولو قابل) دے، چې د يوے ګلدستے په پيش کولو باندې د هغوئي د عطا کولو دا حال دے چې وينزه ئې آزاده کړه نو په نورو معاملاتو کښې به څومره لوئ عطاګانې کوي- الله پاک دِ اوکړي! چې مونږ ټول د امام حسين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ رينښتوني عاشقان جوړ شو، چې خپلو مسلمانانو وروڼړو سره ښه سلوک کوو، د خپل ذات د پاره بدله نه اَخلو، نفرت نه کوو او په خپل زړه کښې د چا بُغض و کينه نه ساتو- په خُله خو د مَحبَّت دعوے کول آسان دي خو اصل کمال د امام حسين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په سيرت باندې تلل دي او د داسې خوش نصيبه عاشقِ صحابه و اهلِ بيت به څه وائے چې د امام حسين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمان مبارک دے: چا چې د الله پاک د رضا د پاره مونږ سره مينه اوکړه نو مونږه او هغه به په ورځ د قيامت داسې يُو، د شهادت او مينځنئ ګوته باندې ئې اشاره اوفرمائيله- (معجم کبير، 3/125، حديث: 2880)

عظيم عاشقِ صحابه و اهلِ بيت زمونږ شيخِ طريقت، امير اهلِ سنت حضرت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي ضيائي دَامَتْ بَرَكَاتُـهُمُ الْعَالِيَه په بارګاهِ الٰهي کښې عرض کوي:

بھیک دے الفتِ مصطفٰی کی — سب صَحابہ کی آلِ عَبا کی
غوث و خواجہ کی احمد رضا کی — میرے مولیٰ تو خیرات دیدے

(مولا علي، بي بي فاطمه، امام حسن او امام حسين عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ته "آلِ عَبا" وائي-)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب — صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿۷﴾ د درې سوالونو صحيح جوابونه

منقُول دي چې د امام حسين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په دربار کښې يو اعرابي (يعني د عربو په کلي کښې اوسيدونکے) سوالګر راغے، سلام ئې عرض کړو او اوئې وئيل: ما ستاسو د خوږ

نيکه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه اوريدلي دي چې هغوئي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: کله چې تا ته د څه څيز ضرورت وي نو په دې څلورو کښې د يو کس نه سوال کوه- يا د اهلِ عرب د شريف سړي نه، يا د سخي آقا نه، يا د حامِلِ قرآن نه، يا د داسې کس نه چې مخ ئې روښانه او مُنوَّر وي او په تاسو کښې دا څلور واړه علامات موجود دي- ځکه چې تاسو عربي ئې او د خپل نيکه په وجه شرافت والا هم ئې او سخاوت کول خو ستاسو عادتِ مبارکه دے او قرآنِ کريم ستاسو په کور کښې نازِل شوے دے او نوراني مخ، د دې په باره کښې ما د رسول الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه اوريدلي دي چې کله تاسو ما ليدل غواړئ نو حسن او حُسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہما ته اُوګورئ- حضرت امام حُسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ اوفرمائيل: ستا څه ضرورت دے؟ هغه خپل ضرورت اوليکلو او ورته پيش ئې کړو امام حسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ اوفرمائيل: زه ستا نه درې سوالونه کووم که تا په دې کښې د يو صحيح جواب راکړو نو زما د ټول مال نه دريمه حصه ستا ده او که تا د دوو سوالونو جوابونه صحيح راکړل نو په درې کښې دويمه‌حِصَّه ستا- او که درې واړه جوابونه دِ صحيح راکړل نو زما ټول مال ستا دے او د مال خلته چې په هغې باندې عراقي مُهر هم لګيدلے وو هغه ئې هغه اعرابي ته ور وړاندې کړه- بيا ئې اَوَلَنے سوال اوفرمائيلو: د ټولو نه افضل عمل څه دے؟ هغه عرض اوکړو: په **الله** پاک باندې ايمان راوړل- بيا ئې تړينه دويم سوال اوکړو: د هلاکت نه نجات څنګه ملاويږي؟ هغه عرض اوکړو: په **الله** پاک باندې د يقين لرلو په سبب بيا ئې تړينه دريم او آخري سوال اوفرمائيلو: سړے کوم څيز مُزيّن (يعني ښائيسته) کوي؟ هغه عرض اوکړو: داسې علم چې د هغې سره حِلم (يعني د برداشت کولو قوت) هم وي شهزادۀ عالي وقار، د کربلا د قافلے سالار، حضرت امام حسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ چې دا جوابونه واوريدل نو هغه سره ئې څه نورې خبرې هم اوکړې او بيا مُسکے شولو او هغه ته ئې د

مال هغه تيلئ ورکړه- (تفسیررازی،پ1،البقرہ:31، 1/415) د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿۸﴾ د شریعت په مسئله باندې عمل

د حضرتِ سَيِّدُنا امام حسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د غلام بيان دے چې زه د امام حسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ سره ووم چې دوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د يو کور په خواه تيريردلو- دوئي د هغه کور نه اوبه طلب کړې نو يوے خادمې د اوبو پيالئ حاضره کړه چې هغه پيالئ له د سپينو زرو مخ ورکړے شوے وو- امام حسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د پيالئ نه سپين زر اوښکل او خادِمې له ئې ورکړل او اوئې فرمائيل: دا خپل کور ته يوسه، او بيا ئې اوبه اوڅښلې-

(طبقات ابن سعد،6/411،رقم:7464،مطبوعہ مکتبہ خانجی،قاهره مصر)

اے عاشقانِ صحابه و اهلِ بيت! فِقهي مسئله دا ده چې د سرو زرو په لوښي کښې خوړل څښل او د دې د پيالو نه تيل لګول يا د دې د عطردان نه عطر لګول يا د دې د انګيټئ نه بخور کول (يعني په دې کښې سپيلني وغيره لُوګے کول) منع دي او دا مُمَانعت د ښځو او سړو دواړو د پاره دے- د زنانؤ د پاره د دې (يعني سرو او سپينو زرو) د کالو اچولو اجازت دے- د کالو نه علاوه په بله طريقه سره زر يا سپين زر استعمالول د زنانؤ او نارينؤ دواړو د پاره نا جائزه دي- (بهارِ شريعت،3/395)

د امام عالي مقام، امام عرشِ مقام، امام حسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د مَحبَّت دعوه لرونکو د پاره د دې واقعے نه په شرعي مسائلو باندې د عمل کولو ذهن جوړول پکار دي ځکه چې د چا په زړه کښې د امام حسين رَضِیَ اللہُ عَنْہُ مَحبَّت وي هغه به په شريعت باندې عمل کوي، په غير شرعي کارونو کښې مشغوليدل د امام حسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د مَحبَّت نه خلاف دي، د امام حسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ کورنئ هغه کورنئ ده د کوم ځائے نه چې د شريعت احکام

جاري کيږي، دوئي ټول عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَانُ خو په شريعت باندې عمل کولو کښې مثال نه لري، د شهادت راتلو وخت کښې په بارګاهِ الٰهي کښي د سجدے د پاره سر ښکته کول هم د دوئي حصه ده، د کربلا په سخت ګرم صحرا کښې د سخت ظلم و ستم کيدلو باوجود د پاکو بيبيانو د صبر و همت مثال په تاريخ کښې ملاويدل مشکل څه چې تقريباً ناممکن دي- بلکه د دې مظلوميت باوجود د پردے و حيا برقراره ساتلو ئې په زمانه کښې مثال قائم دے چې تر څو پورې دنيا قائمه وي تر هغه وخته پورې ئې خلقو ته يو عظيم الشان او روښانه مثال ورکړو- د کربلائے مُعَلّٰی د واقعاتو په ذريعه عاشقانِ صحابه و اهلِ بيت ته په شريعتِ مطهّره باندې د عمل کولو جذبه زياتولو د پاره ذهن جوړول پکار دي- مونږ ځنګه د امام حسين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ عاشقان يُو چې زمونږ خوږ امام رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ به عمامه په سر کوله او مونږه سرتور سر ګرځيدلو کښې فخر محسوسوو ، مونږ ځنګه د امام حسين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ عاشقان يُو چې امام حسين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ به فرض خو فرض د نوافلو او تلاوت کثرت به ئې کولو بلکه د عاشورے يعني د محرم په لسمه شپه ټوله شپه د **اللّٰه** پاک په ياد کښې مصروف وو او يَو مونږه يُو چې ځان ته د امام حسين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ عاشقان وايو خو د عبادت د پاره وخت نه لرو؟ د امام حسين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نياز [يعني خيرات] بالکل ورکول پکار دي او که د شريعت په دائره کښې د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره نياز [خيرات] اوشي نو دا ډير د ثواب کار دے خو د نياز په وجه په لمُونځ کښې يا د جَمعي په لـمانځه کښې کوتاهي کول بالکل نه دي پکار، مونږ ته د نياز [خيرات ديکونه وغيره پخولو] په وجه د مسلمانانو د تلو راتلو لار بندول نه دي پکار، بلکه د نورو خلقو د پاره د اسانئ پيدا کولو ذهن جوړول پکار دي، د خاندانِ رسول د باحيا پاکو بيبيانو سره مينه لرلو والا [خويندې] دِ هم غور اوکړي چې د کربلا په ميدان کښې د بے وسئ په حالت کښې هم د هغوئي په پرده کښې لږ شان فرق هُم رانَغلو او [مسلماني زنانه د دا سوچ اوکړي چې]

مونږه د اهلِ بیت ښځکه وِینزې [خدمت گارې] یُو؟ چې د شاپنګ سنټرو چکرې لګوو، په بازارونو کښې ګرځُو راګرځُو، په ښادو کښې نوې نوې فیشنونه کوو او بے پردګې کوو دا به هغو پاکو بیبیانو ته څومره ناخوښه وي-

بے بسی میں بھی حیا باقی رہی سب حُسینی پردہ داروں کو سلام

## "کربلا کا خونیں منظر" رِسالے مدني سپرلے

د امام حسین رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د فیضان حاصلولو او اخلاق و کردار ښکلي کولو د پاره د عاشقانِ صحابه و اهلِ بیت دیني تحریک دعوتِ اسلامي خوږ او دیني ماحول سره تړون اوکړئ، ستاسو په زړونو کښې د صحابه کرامو او اهلِ بیتو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان مینه زیاتولو د پاره یو مدني سپرلے پیش کووم:

د حیدر آباد (سندھ پاکستان) د یو اسلامي ورور د بیان خلاصه ده چې غالباً د 2004ء خبره ده په فیضانِ مدینه کښې یو ذمه دار مُبلّغ (چې د دعوتِ اسلامي په دیني ماحول کښې ڪم و بیش د پینځلسو کالو نه دے) یوه عجیبه خبره اوکړه- هغوئي اووئیل چې زمونږ خاندان به د بدمذهبه خلقو سره تعلق لرلو- د ماشوموالي نه هغه ته دا ذهن ورکړے شوے وو چې د عاشقان رسول علمائے کرام او د کوم دین داره کس خواه ته نزدے هُم مه ورځه ګنې (معاذالله) ګمراه به دِ کړي تر دې پورې چې هغه به څوک عاشقِ رسول سُنّي په مذهبي حُلیه کښې اولیدلو نو په هغوئي پسې به ئې آوازونه کول او په هغوئي پورې به ئې ټوقې کولې- هغه د فلمونو ډیر شوقین وو- د چهټۍ په ورځ ملګرو سره سنیما ته د تللو او د فلمونو کتلو ئې د ډیر وخت نه معمول وو- ژوند دغه شان په غفلت کښې تیریدلو چې د هغه نصیب رابیدار شو- د 1994ء خبره ده کله چې هغه په کالج کښې سبق وئیلو چې د هغه ماما د بدعقیدګۍ نه توبه کړې وه او د عاشقانِ صحابه و اهلِ بیت دیني تحریک دعوتِ اسلامي دیني ماحول کښې شامل شوے وو او د امیر اهلسنت دَامَتْ

بَرَکَاتُـهُمُ الْعَالِيَهْ په ذريعه په سلسله عاليه قادريه رضويه کښې داخل شوے وو او عطاري جوړ شوے وو او ټوله ورځ به ئې عمامه په سر کوله غالباً د شَعْبَانُ الْمُعَظَّم مياشت وه چې يو ځل د جُمعةُ المبارک په ورځ د سحر په وخت کښې ئې هغه ماما د دوئې کور ته راغلو او چې بيرته تللو نو هغه ته ئې د شهيدانِ کربلا په باره کښې د امير اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُـهُمُ الْعَالِيَهْ رساله په تحفه کښې ورکړه هغه په دې سوچ واخسته چې د ده د تللو نه پس به ئې چرته کيږدم- خو چې کله ئې په ټائټل باندې د رسالے نوم ''کربلا کا خونیں منظر'' [يعني ''د کربلا په وِينو ککړ منظر''] اوليدو نو د لوستلو شوق ئې پيدا شو- چنانچه هغه رساله لوستل شروع کړه د اهلِ بيتو سره د بےحده عقيدت و احترام اظهار ئې دومره د ادب په انداز کښې په اول ځل اولوستو، د ليکلو انداز دومره غمژن او تاثير لرونکے وو چې په هغه باندې د وجد کيفيت شروع شو او هغه په کربلا والؤ [يعني اهلِبيتو] باندې د شوو ظُلمونو په ياد کښې په ژړا شو- د واقعهٔ کربلا په باره کښې چې امير اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُـهُمُ الْعَالِيَهْ کوم اصلاحي مدني ګلونه بيان کړي وو هغې د هغه خيالات صفا کړل- ځکه چې د شهدائے کربلا په باره کښې بيانونه خو ئې ډير ځل اوريدلي او لوستلي وو خو په ''درسِ کربلا'' نن په اول ځل پوهه شوے وو- د هغه عجيبه کيفيت جوړ شوے وو- هغه خپله خور نزدے راووبلَلَه او هغې ته ئې هم هغه رساله اوروَل شروع کړل- خور ئې چې رساله واوريدله نو هغه هم په ژړا شوه تر دې چې په سلګو شوه - اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عظيم عاشقِ صحابه و اهلِ بيت، امير اهل سنت دَامَتْ بَرَکَاتُـهُمُ الْعَالِيَهْ د تحرير برکتونه سمدستي ښکاره شو او هغه اسلامي وررور او د هغه خور په هغه ساعت (د بدو عقائدو او اعمالو نه) توبه اوکړه او د لمُونځونو د پابندئ نيت ئې اوکړو- مازديګر چې د هغه ملګري حسبِ معمول په هغه پسې سنيما ته بوتللو د پاره راغلل نو هغه ورته معذرت اوکړو، د هغه دوستان حيران شو خو هغه ډيرې خبرې اونکړې-

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! یو څو ورځې پس هغه عاشقِ رسول هم هغه رساله خپل مور او پلار ته هم واورَوَله نو هغوئي هم ډير زيات متاثره شو او په خپل مينځ کښې ئې مشوره اوکړه او آئنده د پاره ئې تې وي په کور کښې د نه چلولو پوخ ذهن جوړ کړو- (دغه وخت پورې مدني چينل نه وو شروع شوے) کله چې د زيارت ورځ راغله نو هغه د کور کسانو ته اووئيل چې زه د دعوت اسلامي هفته وارې د سنتو نه ډکې اجتماع ته ځم- دا ئې چې واوريدل نو مور ئې چې هغه هم د امير اهلسنت رساله اوريدلو باندې متاثره شوې وه خو اجتماع ته د تللو اجازت ئې ورنکړو او دا ئې ورته اُووئيل چې صرف لمُونځ کوه هم دا کافي ده، اجتماع وغيره له تللو ته ضرورت نشته- [هغه اسلامي ورور وائي] ما چې ورته يو څو ځله عرض اوکړو نو والِد صاحِب مې مور ته اوفرمائيل: خير دے پريږده ئې چې لاړ شي، د ده ماما هم ډير وائي، هغه به هم خوشحاله شي- اسلامي ورور دا موقع غنيمت اوګڼړله او خپل والِد صاحب ته ئې هم اجتماع ته د تللو دعوت پيش کړو چې باباجانه تاسو هم راسره لاړ شئ- خور ئې هم د دوئي ملګرتيا اوکړه، والِد صاحِب ئې د لږ شان تردُّد نه پس تللو ته تيار شو-

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د اَوَلنئ هفته وارې د سنتو نه ډکې اجتماع کښې د شرکت په برکت د هغوئي په ژوند کښې مدني انقلاب راغے- په اجتماع کښې د جنت په موضوع باندې بيان اوشو، د والِد صاحب په زړه کښې ئې هم د دعوتِ اسلامي مَحبَّت پيدا شو- او اَلْحَمْدُ لِلّٰه! په کور کښې ئې د امير اهلِ سنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ رسالے لوستلو سره سره "د سنتو ډک بيانونه" اوريدل هُم شروع شول-

د دې په برکت سره نه صرف د هغوئي ټول کور بلکه د خاندان يو څو کورنو هم د بدمذهبيّت نه توبه اوکړه او د دعوت اسلامي ديني ماحول کښې شامل شو- د حيرانتيا خبره ده چې د هغوئي په خاندان کښې د بُرقعې بالکل رواج نه وو او بدقسمتئ سره برقعه

به ئې ډېره عیب ګڼړله- د عظیم عاشقِ صحابه و اهلِ بیت، امیر اهل سنت دَامَتۡ بَرَکَاتُـهُمُ الۡعَالِیَهۡ تحریر [یعني رسالو] او بیانونو هغه سپرلي راوستل چې د هغوئي خویندو برقعې اچول شروع کړې او د دعوت اسلامي دیني ماحول کښې شاملې شوے او اسلامي خویندو سره د سنتو نه ډکو اجتماعاتو کښې د شرکت کولو سره سره ئې نورو دیني کارونو کښې هم شاملیدل شروع کړل-

ہے عطائے حبیبِ خدا مدنی ماحول فَیضانِ غوث و رضا مدنی ماحول
سَنور جائے گی آخرت اِن شاءَ اللّٰہ تم اپنائے رکّھو سدا مدنی ماحول

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿۹﴾ خپله تړله وظیفه ئې سوال کوونکي له ورکړه

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د صحابه کرامو او اهلِ بیتو سره د مَحبَّت پیغام عام کولو والا مشهور وليُّ الله حضرت علي بن عثمان هجویري المعروف داتا ګنج بخش رَحۡمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیۡه په خپل مشهورِ زمانه کتاب ”کَشفُ المَحجُوب“ کښې لیکي: د حضرت سَیِّدُنا امام حسین رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ په خدمت کښې یو کس حاضر شو او د خپلې غریبۍ شکایت ئې اوکړو- هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ ورته اوفرمائیل: لږ ساعت کښېنه! زمونږ وظیفه راتللو والا ده، څنګه چې وظیفه راشي زه به تاسو رخصت کړم- لږ ساعت پس د حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ له طرفه د زرو زرو دینارو (یعني د سرو زرو د سِکّو) پینځه تیلۍ د هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ په خدمت کښې پیش شوې- راوړونکي عرض اوکړو: حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ معذرت کړے دے چې دا لږ شان رقم دے، دا قبول کړئ امام حسین رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ هغه ټول رقم هغه کس ته حواله کړو او هغه ته ئې معذرت اوکړو چې تا د انتظار تکلیف اوکړو- (کشف المحجوب، ص77)

میٹھے میٹھے مصطفٰے کی بارگاہِ پاک میں کیجئے میری سِفارش آپ یا داتا پیا

# د کربلا والو د غم متعلق یوه اهمه فتوٰی

د " فتاوٰی رضویه " نه یو سوال سره د جوابه، خلاصه ئې اولولئ:

**سوال:** د اهلِ سنت وجماعت د پاره په مُحرّمُ الحرام کښې غم، خفګان کول جائز دي که نه؟

**جواب:** کوم یو سُنّي به وي چې د هغه په زړه کښې به د کربلا د خوفناکې واقعے غم نه وي یا به د هغې په یاد کښې د هغه زړه غمژن او سترګې سرے نه وي، خو په مصیبتونو کښې مونږ ته د صبر کولو حکم دے، **جزع فزع** (یعني ژړل او ځان وَهل) شریعت منع کړي دي، د چا په زړه کښې چې د دې واقعے غم نه وي او هغه د دروغو غم ښکاره کوي نو دا رِیا ده او قصداً په زړه کښې غم پیدا کول او غم تازه کول خلافِ رضا دي چا ته چې د دې غم نه وي هغه له بےغمه نه دي کیدل پکار بلکه د دې غم نه کیدلو غم ورله پکار دے ځکه چې د هغه مینه ناقصه ده او د چا مینه چې ناقصه وي د هغه ایمان هم ناقصه وي - (فتاوٰی رضویه، 488486/24 ملخصاً) اعلٰی حضرت، امام اهلسنت امام احمد رضا خان عَلَیْهِ رَحْمَةُ الرَّحْمٰن فرمائي: (په ذکرِ شهادت کښې) داسې خبرې کول نه دي پکار چې په هغې کښې د هغوئې بےقدري او توهین کیږي- (فتاوٰی رضویه، 738/23)

په مُکاشفةُ القلوب کښې دي: پوهه شئ چې د عاشورے په ورځ امام حسین رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ سره څه اوشول هغه د **الله** پاک په بارګاه کښې د هغوئې د درجاتو په اوچتوالي کښې د اضافے واضحه دلیل دے لهٰذا چې څوک په دې ورځ د هغوئې د مصیبتونو ذکر کوي هغه له دا مناسب نه دي چې سوا د "اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّاۤ اِلَیْهِ رٰجِعُوْن" نه نور څه اووائي ځکه چې هم په دې کښې د **الله** پاک حکم منل او په فرمانِ الٰهی باندې عمل کول دي، څنګه چې ارشاد کیږي:

﴿اُولٰٓىِٕكَ عَلَیْهِمْ صَلَوٰتٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ ۗ وَاُولٰٓىِٕكَ هُمُ الْمُهْتَدُوْنَ ﴿۱۵۷﴾﴾

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان:: هم دا خلق دي په چا چې د دوئي د رب دُرودُونه دي او رحمت دے، او هم دا خلق په هدایت دي-

اعلیٰ حضرت، امام اهلسنت امام احمد رضا خان عَلَیْہِ رَحْمَۃُ الرَّحْمٰن د صحابه کرامو او اهلِ بیتو عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان په شان کښې لیکي:

| | | |
|---|---|---|
| اُن کے مولیٰ کے ان پر کروڑوں درود | | ان کے اصحاب و عترت پہ لاکھوں سلام |
| اَلغرض اُن کے ہر مُو پہ لاکھوں درود | | ان کی ہر خُو و خَصلت پہ لاکھوں سلام |
| اس شہیدِ بَلا شاہِ گلگوں قَبا | | بیکسِ دَشتِ غربت پہ لاکھوں سلام |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| هر صحابِي نبی! | جَنَّتي جَنَّتي | حضرتِ صدیق هُم! | جَنَّتي جَنَّتي |
| او عمرفاروق هُم! | جَنَّتي جَنَّتي | عثمانِ غنی! | جَنَّتي جَنَّتي |
| فاطمه او علي! | جَنَّتي جَنَّتي | حسن او حسین هُم | جَنَّتي جَنَّتي |
| والدینِ نبی! | جَنَّتي جَنَّتي | هره زوجهٔ نبی! | جَنَّتي جَنَّتي |